چنګاښ ــ ۱۳۹۲

## هر اړخیز وضعیت

**اقتصاد:** د افغانستان اقتصادي وده په تېرو لسو کلونو کې لوړه خو د بدلون په حا ل کې ده. د کورنیو ناخالصو عوایدو منځنۍ کچه له ۱۳۸۲ څخه تر ۱۳۹۱ کال پورې هر کا ل په سلو کې ۹,۲ وده لرلې ده. په ۱۳۹۱ لمریز کال کې کورني ناخالص عواید په تخمیني ډول په سلو کې ۱۱,۸ لوړ شوي، چې ستر لامل یې مناسبه آب و هوا ښوول شوې چې په نتیجه کې یې په حاصلاتو کې پام وړ لوړوالی راغی. په افغانستان کې د کرنې سکتور معمولاً د ټولو کورنیو ناخالصو عوایدو څلورمه یا درېیمه برخه جوړوي.

دا په داسې حال کې ده چې د کانونو سکتور ورو ورو د اقتصادي ودې پر یوه سرچینه بدلېږي. په تېرو وختو کې د کانونو سکتور ډېره لږه برخه (په ۱۳۹۰ لمریز کال د ټولو کورنیو ناخالصو عوایدو ۰,۶سلنه وه) جوړوله. په ۲۰۱۲ میلادي کال کې د کانونو سکتور لومړنۍ ستره پروژه، د آمو حوزې نفت، ګټې اخیستنې ته وسپارل شوه او داسې هیله کېږي چې په راتلونکو کلو کې د کانونو ونډه د تولیدي اجزاوو په بنه زیاتوالي ومومي. دافغانۍ ارزښت په ۲۰۱۲ میلادي کال کې تقریباً ۸ سلنه کمښت موندلی دی، چې جوت دلیل یې د کار شرایط او د امنیت په اړه اندېښنه په ډاګه شوې. ناڅرګند او مبهم سیاسي او امنیتي حالت کېدای شي په راتلونکو کلونو کې د خصوصي سکتور د محدودې ودې لامل وګرځي.

**د لېږد بهیر:** د ۲۰۱۰میلادي کال په نیمایي کې افغان دولت او ناټو سازمان هوکړه وکړه چې د ۲۰۱٤ م کال تر وروستیو پورې ټول امنیتي مسوولیتونه افغان امنیتي ځواکونو ته وسپاري. د ډېرې بهرنیو ځواکونو وتل کېدای شي پر اقتصادي او پراختیایي لاسته راوړنو مستقیمې او پایېدونکې اغېزې ولري. افغانستان له ۲۰۰۱ میلادي کال راهیسې تر ډېره بریده د نړیوالې ټولنې پر مرستو تکیه لري، چې د نړیوالو ځواکونو له وتلو سره به دا مرستې خورا راکمې شي. دا په داسې حا ل کې ده چې نړیوال همکاران تر ۲۰۱٦ میلادي کاله د خپلو مرستو ادامې ته ژمن دي، خو عامه ذهنیت په راتلونکیو میاشتو او کلو کې د هېواد پر امنیت او ثیکاو بې باوره دی.

**پوهنه:** په ۲۰۰۱ میلادي کال کې د طالبانو رژیم تر نسکورېدو وروسته په ښوونځیو کې د کوچنیانو شمولیت په هلکانو کې ٤۳ سلنه او په نجونو کې یوازې ۳ سلنه ښوول شوی و. هغه مهال شاوخوا ۲۱۰۰۰ ښوونکي، چې زیاترو یې لوړې زده کړې او کافي سواد نه لره، شاوخوا پنځو میلیونو کوچنیانو ته په زده کړه بوخت ول. دا په دې مانا چې هر ښوونکي شاوخوا ۲٤۰ تنو زده کوونکو ته د تدریس مسوولیت پر غاړه لره. له ۲۰۰۲ میلادي کا ل راهیسې په ښوونځیو کې د زده کوونکو د شمولیت کچه له یو میلیون څخه ۷,۸ میلیونو ته لوړه شوې چې پکې د نجونو د شمولیت کچه له ۱۹۱۰۰۰څخه ۲,۸ میلونو ته پورته شوې.

ټولو ښوونکیو، چې شمېر یې ۱۸۰۰۰۰ تنو ته رسېږي، په داخل خدمت کورسونو او یا هم د ښوونکیو په روزنیزو مرکزونو کې روزنه ترلاسه کړې ده. د ښوونکو د پوهې کچې لوړولو او په افغانستان کې د پوهنې اغیزمنو خدمتونو ته د ټولو افغانانو د لاسرسي لپاره همدا اوس هم لازمي هلې ځلې رواني دي.

**روغتیا:** په افغانستان کې د مړینې د ۲۰۱۰ کال سروې د ارقامو له مخې په هېواد کې د عمر منځنۍ کچه ٦٤ کاله اټکل شوې ده. یوازې په سلو کې ۲۷ افغانان د څښلو پاکو اوبو او ۵ سلنه کافي حفظ الصحې ته لاسرسی لري. خو په تېره لسیزه کې په بېلابېلو برخو کې ډېر څه لاسته راغلي. دمګړۍ په سلو کې ۸۵ افغانان په هغو ولسوالیو کې ژوند کوي چې پکې اساسي روغتیایي خدمتونه وړاندې کېږي. د ۱۳۸۹ ل. کال د زیانمنني راپور له مخې په سلو کې نږدې ۵۷،۴ افغانان په هغو سیمو کې ژوند کوي چې له روغتیایي مرکزونو په یو ساعت واټن کې پرتې دي. د نویو زېږېدلو کوچنیانو د مړینې کچه (چې په ۲۰۰۸ میلادي کال په هرو زرو نویو زېږېدلو کې ۱۱۱ تنه وه) په ۲۰۱۰ میلادي کا ل کې ۷۷ ته راکمه شوه. او تر پنځو کلو ټیټ عمره ماشومانو د مړینې کچه په ۲۰۰۸ کې له ۱٦۱ څخه ۹۷ ته په ۲۰۱۰ کې راټیټه شوه. د زېږون د پېښو له امله د مېرمنو د مړینې کچه په هرو ۱۰۰۰۰۰ زېږونو کې ۳۲۷ ده، پدې مانا چې په هرو دوو ساعتونو کې یوه میرمن د زېږون په بهیر کې مري.

**برېښنا ته لاسرسی:** د هغو افغانانو سلنه چې برېښنا ته لاس رسی لري په نړیواله کچه د ټیټو هغو په کتار کې راځي. د انرژۍ او اوبو وزارت د اټکل له مخې په سلو کې شاوخوا ۳۰ افغانان د ښاري برېښنا شبکو، او د اوبو او لمر له کوچنیو برېښناکوټونو د خپلې برېښنا اړتیا پوره کوي. له ازبکستان څخه د برېښنا واردولو او د برېښنا د درېو بندونو (ماهیپر او سروبي چې کار یې بشپړ شوی او نغلو چې کار پرې روان دی.) تر بیارغونې وروسته، د مزار شریف او کابل ترمنځ پرتو ښاري مرکزونو په حالت کې د پام وړ بدلون او وده تر سترګو کېږي. همدارنګه اوس د ۲٤ ساعته برېښنا خدمتونه په تاریخ کې د لومړي ځل لپاره په بېلابېلوسیمو، لکه د کابل ، هرات، مزارشریف او پلخمري په ښارونو کې برابرشوي دي.

**تګلار**

## د نړیوال بانک ګروپ او افغان دولت:

افغانستان په ۱۹۵۵ میلادي کال کې د نړیوال بانک غړیتوب ترلاسه کړ. په ۱۹۷۹میلادي کا ل د شوروي اتحاد ځواکونو تر یرغل وروسته په افغانستان کې د نړیوال بانک فعالیتونه وځنډېدل، خو بانک د افغانانو لپاره خپلې مرستې په پاکستان کې د خپل دفتر له لارې جاري وساتلې.

له ۱۹۷۹ کال مخکې نړیوال بانک په افغانستان کې په بېلابېلو برخو لکه ښوونه او روزنه، سړک جوړونه او کرنه کې ۲۱ پروژې د بې سوده پورونو (کرېډېټ) له لارې لرلې. افغانستان د نړیوال بانک د ۲۳۰ میلیونه ډالره بې سوده پور ۸۳ میلیونه تر ۱۹۷۹ میلادي کال پورې بېرته ورکړل، خو پاتې ۱٤۷ میلیونه ډالره یې وروسته فسخه شول. افغانستان د ۱۹۹۲ کال تر جون پورې د بې سوده پور ۹،۲ میلیونه ډالر بېرته ورکړي او له هغې وروسته د پور بېرته ورکړې لړۍ پرې شوې.

نړیوال بانک خپل فعالیتونه په افغانستان کې د ۲۰۰۲ میلادي کال په مې میاشت کې بیا پیل کړل، چې د ډېرو بېوزلو او غریبو خلکو د بیړنیو اړتیاوو په پوره کولو کې مرسته وکړي او په عین حال کې له دولت سره د اداري سیستمونو په جوړولو کې، چې په اوږد مهاله پراختیا کې اغېزمن دي، مرسته وکړي. له ۲۰۰۲ کال راپدېخوا د نړیوال بانک مرستې په افغانستان کې په تدریج سره زیاتې شوې دي، چې اوس د بیړنۍ بیارغونې او پراختیا لپاره ډېرې زیاتې پروژې د نړیوال بانک له خوا د ۲،٦۳ میلیونه ډالرو په ارزښت د افغانستان لپاره برابرې شوې دي. له یادې بسپنې ۲،۱۹ میلیونه ډالره یې وړیا مرسته او ٤۳٦،٤ میلیونه یې بې ګټې پورونه (کریډیټ) دي. په اوس وخت کې نړیوال بانک په افغانستان کې ۲۵ فعالې پروژې لري، چې خالصی ژمنې یې له ۱،۲ میلیاردو ډالرو زیاتیږي. ځینې پروژې لا وار دمخه بشپړې شوې دي.

**نړيوالي مالي اداري** (د نړيوال بانک ګروپ د خصوصي سکتور څانګه) د پانګونې په بڼه تر دې دمه ټوله ۹۰ میلیونه ډالره مرسته چمتو کړې او همدا راز يې مالي سرچينو ته د لاسرسي، سوداګريز چاپيريال ښه والي، کرنيزې سوداګرۍ، کوچنيو او منځنيو متشبثينو روزنې او د خصوصي او عامه سکتور ترمنځ د همکارۍ په برخو کې د سلامشورو خدمتونه وړاندې کړي دي. نړيواله مالي اداره هڅه کوي له خصوصي سکتور سره خپلې مرستې ډېرې کړي او همدا راز دا و ارزوي چې څنګه مشورتي خدمتونه په مختلفو برخو کې زيات کړي.

د افغانستان د بيارغونې صندوق (ARTF) په ۲۰۰۲ کال کې رامنځته شوی او په هېواد کې د بهرنۍ مرستې تر ټولو ستره او يوازينۍ مالي سرچينه ده چې د افغانستان ملي لومړيتوب لرونکي پروګرامونه، د دولت عملياتي لګښتونه او معاشات، او همدا راز د پاليسۍ د اصلاح هڅې تمويلوي. ياد صندوق په روغتيا، پوهنې، کليوالي پراختيا، زېربنا او نورو برخو کې د پراختيايي پروژو مالي ملاتړ کوي. له ياد صندوق سره د ۲۰۰۲ کال راپدېخوا نږدې ۳۳ مرستندويو نږدې ۶ مېلیارده ډالره مرسته کړې ده. د افغانستان د بيارغونې صندوق د نړيوال بانک لخوا، د افغان دولت، چې د ماليې وزارت يې استازيتوب کوي، او يو شمېر مرستندويو په نږدې همکارۍ اداره کېږي. د دې صندوق موخه د افغانستان د ملي پراختيايي تګلار د اهدافو د ترلاسي ملاتړ دی.

د نړيوال بانک ګروپ د پانګې اچونې د څو اړخيز تضمين اداري په افغانستان کې د پانګونې لړ شمېر تضمينونه برابر کړي دي، خو افغان دولت او خصوصي سکتور په راتلونکي کې نورو تضميناتو ته لېواله دي، په ځانګړي ډول هغو ته چې د زېربنا په برخو کې د پانګونې ملاتړ وکړي.

نړيوال بانک پام وړ څېړنيز کارونه هم ترسره کړي. د روان کا ل په فبروري کې يې خپل يو راپور"د افغانستان د انتقال بهير: له ۲۰۱۴ ورها خوا" خپور کړ. دا راپور، چې لومړی په ۲۰۱۲ ميلادي کال خپور شوی و، په افغانستان کې د لېږد پر بېلابېلو اړخونو راڅرخي.

## د نړيوال بانک ستراتيژي

په افغانستان کې د نړيوال بانک اوسني فعاليتونه د افغانستان لپاره د نړيوا ل بانک پر لنډمهالي ستراتيژۍ ولاړ دي او د افغان دولت له ملي پراختيايي تګلار سره سمون لري. په پام کې ده چې د افغانستان لپاره د نړيوال بانک مرستې په ۲۰۱۲- ۲۰۱٤ کلونو کې مهم ملي لومړيتوبو راونغاړي او ملاتړ يې وکړي. نړيوال بانک همدا راز له افغان دولت سره له نړيوالې ټولنې افغان دولت ته د امنيتي مسووليتونو د لېږد بهير د ښه مديريت په برخه کې، چې د ۲۰۱٤ ميلادي کا ل تر پايه پورې به بشپړېږي، مرسته کوي. د نوې تګلار له مخې د نړيوا ل بانک ګروپ مرستې په لاندې درې اصلونو ولاړې دي:

- د دولتي ادارو ظرفيت او مشروعيت پياوړی کول
- د متوازنو خدمتونو رسول
- هر اړخيزه وده او د دندو رامنځته کول

نړيوال بانک به خپل فعاليتونه د نړيوالې پراختيايي اداري له لارې په کال کې د ۱۵۰ میلیونه ډالرو بلاعوضه مرستې له لارې پلې کوي او همدا راز به د افغانستان د بيارغونې صندوق په ۲۰۱۲-۱۲ کلونو کې هر کال تر ۸۰۰ میلیونو ډالرو مرسته چمتو کوي. نړيواله مالي اداره، يا د بانک د خصوصي سکتور څانګه، به د خصوصي سکتور او کاروباري چاپيريال د پياوړي کولو په برخو کې خپلې مرستې زياتې کړي.

د نړیوال بانک مرستې پر ملي پروګرامونو، چې د هېواد په ګوټ ګوټ کې یې د میلیونو افغانانو ژوند ښه کړی، ټینګار کوي. په دغو پروګرامونو کې دروغتیا ، ښووني او روزنې، کلیو پراختیا او عامه مالي مدیریت برخې شاملې دي.

## په افغانستان کې د نړیوال بانک لاسته راوړنې

### پوهنه:

نړیوال بانک لومړني ښوونځي بیارغوي او ښوونکیو ته د روزنې امکانات برابروي، او د پوهنې او لوړو زده کړو وزارتونو د پیاوړتیا لپاره تخنیکی مرستې چمتو کوي. د نړیوال بانک د پوهنې کیفیت د پیاوړتیا پروګرام، د کلیوالي سیمو اوسېدونکو لپاره مالي امکانات برابروي چې د ښوونځیو ودانۍ جوړې او یا بیاورغوي او د زده کړې او تدریس موادو ته لاسرسی ومومي. له ۲۰۰۱ کال راپدېخوا په ټول هېواد کې ۹۳۰ ښوونځي جوړ او یا بیارغول شوي دي. د څه باندې ۹۰۰ نورو ښوونځیو د جوړولو کار همدا اوس روان دی. د پوهنې د کیفیت پیاوړتیا پروګرام له لارې له ۱۱۰۰۰ څخه زیاتې د ښوونځیو شوراګانې جوړې شوي، چې د ښوونځیو څرنګوالی او په ځینو وختو کې د ښوونځیو جوړولو بهیر وڅاري. د هېواد نږدې ټولو ښوونکیو لازمې روزنې اخیستې او ۳۵۰۰ تنو ښځینه ښوونکو د ښوونکو په روزنیزو مرکزونو کې د زده کړې بورسونه ترلاسه کړي.

**د لوړو زده کړو پیاوړتیا پروګرام** له ۱۲ پوهنتونونو سره مرسته کوي، چې د هغوی اساسي فعالیتونه اعاده شي. په دولتي او شخصي پوهنتونونو کې د شمولیت کچه له ۸۰۰۰ څخه (په ۲۰۰۱ کال کې) ۱۰۰۰۰۰ تنو ته (په ۲۰۱۲ کال کې) زیاته شوې ده. د لوړو زده کړو خواوشا ۶۵ موسسو له لوړو زده کړو وزارت څخه جواز اخیستي او نږدې ۵۰۰۰۰ محصلانو ته یې د تحصیل زمینه برابره کړې.

**د مهارتونو د ودې پروګرام** د اداري او منجمنت ملي انستېــــتیوټ تاسیس کړ او په هېواد کې یې د ځوانو هنروالو لپاره د لومړني انســــــتېتیوټ په توګه د موسیقي د ملي انستیــــتیوټ په راژوندي کولو کې رغنده ونډه ولوبوله. اوسمهال په یاد انستــــېتیوټ کې تر ۱۴۰ زیاتو زده کوونکو ته له څلورم ټولګي څخه تر څوارلسم ټولګي پورې په معیاري توګه د موسیقي زده کړې ورکول کېږي. د مهارتونو د ودې پروګرام په کابل کې د ړندو لپاره د ځانګړي ښوونځي په ګډون له څلورو نورو انستېتیــــوتونو سره هم مرسته کوي. د یاد پروګرام په لړ کې تر ۹۰۰۰ ډېرو ګډونوالو ته د تخنیکي زده کړو او د سوداګرۍ د پراختیا په برخو کې هم زده کړې ورکړل شوې دي چې درېیمه برخه یې ښځینه زده کوونکي جوړوي.

### روغتیا:

اوسمهال په میلیــــــونونو افغانان د هېواد په کچه لومړنیو روغتیایي خدمتونو او د روغتونونو اړینو خدمتونو ته لاسرسی لري. روغتیایي خدمتونو ته لاسرسی د ۲۰۰۳ کال په پرتله چې ۹ په سلو کې و په ۲۰۱۲ کال کې ۶۰ سلنې ته لوړ شوی دی او د روغتیا په برخه کې لاسته راوړنې خورا د پام وړ دي. د روغتیایي مرکزونو شمېر دوه برابره شوی، د خدمتونو کیفیت لوړ شوی، او روغتونونو ته د خارج بستر (سراپا) ناروغانو د ورتګ کچه څلور برابره لوړه شوې ده. شاوخوا ۲۰۰۰۰ سیمییز روغتیایي کارکوونکي، چې له نیمایي څخه زیاتې یې ښځې دي، روزل شوي او په ټول هیواد کې په دندو ګومارل شوي دي. چې له دې سره د زېږونونو ترمنځ د واټن سلامشورو ته د خلکو لاسرسی ډېر شوی او د کوچنیوالي دورې واکسینونونه عام شوي دي. دروغتیایي مرکزونو شمېر، چې مسلکي ښځینه کارکوونکي لري، د پروژې تر پلي کېدا دمخه له ۲۵ سلنې ۷۴ سلنې ته زیات شوی. په اوس وخت کې نړیوال بانک اړو کلیوالي خلکو ته د روغتیایي خدمتونو د پیاوړتیا پروګرام له لارې دعامې

روغتيا له وزارت سره په ۱۱ ولايتونو کې د لومړنيو روغتيايي خدمتونو په برابرولو او رسولو کې مالي مرسته کوي. "د لېږد په لړ کې د روغتيايي سيستم د اسانتيا" په نامه راتلونکې پروژه، چې په لنډ ډول يې "صحت" بولي، پدې وروستيو کې د نړيوال بانک له خوا منظوره شوې ده. دا پروژه به په افغانستان کې د روغتيايي خدمتونو لاسرسي، پوښښ او کيفيت ته لا ډېر پام ورواړي او په ۲۲ ولايتونو کې به ښاري او کليوالي سيمې تر خپل پوښښ لاندې راولي.

## د کليو پراختيا:

د ملي پيوستـــــــون پروګرام په افغانستان کې تر ټولو ستر پراختيايي پروګرام دی چې د هېواد په تاريخ کې د لومړي ځل لپاره د افغاني ټولنې بنسټونه (کلي) پياوړي کوي. دغه پروګرام کاري فرصتونه رامنځته کوي او د هېواد په ټولو برخو کې زېربناوې رغوي. نړيوال بانک د دې پروګرام يو ستر تمويلوونکی دی. دغه پروګرام کليوالي پروژې، چې د خلکو له خوا د لومړيتوبونو په توګه په نښه کېږي، تمويلوي. د هېواد په کچه نږدې ۳۴۰۰۰ منتخبو کليوالي پراختيايي شوراګانو د کليو او بانډو د بيارغونې په موخه ۶۹۰۰۰ پروژې په ګوته کړې دي. تر اوسه د يادو شوراګانو نږدې ۸۰ سلنې څه باندې ۱,۱۲ ميليارده ډالر د غوره شوو پروژو د پلي کولو لپاره ترلاسه کړي دي.

د کليوالي سړکونو ملي پروګرام د کال په اوږدو کې کليوالي سيمو ته تګ راتګ اسانوي. له ۲۰۰۲ کال راپدېخوا د کليوالي سړکونو ملي پروګرام د ځايي او سيميزو خلکو په مرسته ۱۱۰۰۰ کيلومتره سړکونه رغولي، چې دې چارې کار موندنې، ښوونې او روزنې، روغتيايي خدمتونو، بازارونو او نورو اسانتياوو ته د کليوالي خلکو لاسرسی خورا زيات کړی. تر ۲۷۰۰۰ زيات کلي د بازارونو سره نښلول شوي دي. سږ کال په پام کې ده چې نږدې ۷۰۰ کيلومتره نور سړکونه په کليو او بانډو کې ورغول شي چې ګڼ شمېر نور کلي به هم له سوداګريزو بازارونو سره ونښلوي. همدا ډول به د ۳۰۰۰ کيلومتره دويمې او درېيمې درجې سړکونو د پاملرنې او ساتنې چارې هم ترسره شي.

## د عوايدو راټولول:

د ګمرکاتو د اصلاحاتو او سمون او سوداګرۍ اسانولو دويمې پروژې موخه د ګمرکي چارو ښه والی، په ځانګړې توګه په مناسب وخت کې د مشروعو سوداګريزو مالونو ترخيصول دي. دا چې ګمرکي عوايد د داخلي عوايدو ستره برخه جوړوي، لازمې هڅې پيل شوي چې ګمرکي چارې تنظيم او د ناوړې استفادې لارې چارې او دعوايدو ضايع کيدل تر ډېره راکم شي. د ګمرکونو په ټولو رياستونو او سرحدي سيمو او نقطو کې ګمرکي پروسې کمپيوټري شوي او د ارزښت له مخې تقريباً په سلو کې ۹۵ واردات او صادرات اوس د اتومات کمپيوټري سيستم له لارې ثبتيږي، ، چې دا پخپل وار سره د تجارتي اموالو د چټک ترخيص، او د ضياع او ناوړه ګټې اخيستنې، فساد او قاچاق د مخنيوي لامل ګرځېدلي دي.

## برېښنا رسول:

د انرژۍ د بيارغونې پروژې د کابل ښار اوسېدونکو ته ډاډمنه برېښنا برابراه کړې ده. يوازې ۸ کاله وړاندې نږدې ۶ سلنه افغانانو په ټول هېواد کې د برېښنا شبکې ته لاسرسی لره، چې د نړۍ په کچه يوه ټيټه فيصدي ګڼل کېده. په هېواد کې د برېښنا شبکو د بېرته فعالولو او له ګاونډيو هېوادونو څخه د برېښنا له واردولو سره اوس د هېواد نږدې ۲۵ سلنه کورنۍ چې ډېرۍ يې په کابل او يا هم د هېواد په شمال کې اوسي، له مطمئنې برېښنا برخمن دي.

سربيره پردې دوه نورې پروژې (د کابل ـــ ايبک/مزارشريف د بريښنا پروژه او د افغانستان د برېښنا سکتور د پراختيا پروژه)، چې د افغانستان د بيارغونې صندوق له لارې تمويليږي، دمګړۍ د مزارشريف ـــ کابل د لويې

لارې په اوږد کې د سترو ښاري مرکزونو د ویش شبکې او او ځینې سب سټېشنونه بیارغوي. اټکل کېږي چې ســـــږ کال به نږدې یو میلیون کورنۍ، سوداګریز مرکزونه او فابریکې د ټول هېواد په کچه له ۲۴-ساعته برېښنا برخمنې شي.

افغان دولت هڅه کوي په هېواد کې مخابراتي خدمات پراخ کړي، د ګرځنده ټېلیفونونو د پروګرامونو استعمال عام کړي، د معلوماتي ټکنالوجۍ کوردننه صنعت پیاوړی کړي او پدې برخه کې مهارتونو ته وده ورکړي. د نړیوال بانک د معلوماتي او مخابراتي ټکنالوجۍ سکتور پراختیایي پروژه د ارتباطاتو غځولو او د معلوماتي ټکنالوجۍ په برخه کې د افغانانو د وړتیاوو  لوړولو په برخو کې د ستراتېژیکو (اوږدمهالو) پانګونو ملاتړ کوي. په پام کې ده چې په روان کال کې د نوري فایبر نږدې ۳۰۰ کیلومتره نور مزي هم وغزول شي او ۱۰۰۰ افغانان د معلوماتي ټکنالوجۍ په برخه کې وروزل شي.

**بڼوالي**: د ۲۰۰۹ او ۲۰۱۲ میلادي کلونو ترمنځ پر ۴۰۰۰ هکتاره ځمــکه د انګور نوي تاکونه او همدا ډول د زردالو، بادامـــــو، پـــــستې او انارو بـــڼونه جوړ شوي او همدا ډول یوه زیاته اندازه سبزیجات او د ورځنیو کارېدونکیو سبزیو کروندې رامنځته  شوي دي.

**اوبه لګونه: د اوبولګونې د سیستم بیارغونې او پراختیا پروژې** هدف د پروژې تر پوښښ لاندې سیمو کې د کرنیزو پیداوارو د تولیدي کچې لوړوالی دی. له ۲۰۰۶ کال راپدېخوا د هېواد په ۳۴ ولایتونو کې تر ۶۰۰۰۰۰ زیات کورونه د اوبو له بیارغول شویو سیستمونو برخمن شوي دي. د افغانستان نږدې ۸۵ سلنه د کرکیلې وړ ځمـــــــکه خړوبـــــولو (آبیارۍ) ته اړتیا لري. البته دا پداسي حال کې ده چې کابو دېرشو کلو جګړو د هېواد د اوبولګولو سیستم زښت زیانمن کړی.

**کلیوالي سوداګري:** په تېرو دوو کلو کې د افغانستان د کلیوالي سوداګرۍ د پراختیا پروګرام له نږدې ۳۵۰۰۰ کلیوالو او بېوزلو افغانانو سره مرسته کړې چې نیمه برخه یې ښځې جوړوي. یادې هڅې په خپل وار سره د یو میلیون ډالرو د سپما سبب شوي دي. د دې سپما نږدې دوه پر درې برخه د ګروپ نورو غړو ته د پور په ډول ورکړل شوې چې د پور د بېرته ورکړې کچه پکې ۹۵ سلنه ده. د متناسب اقتصاد د رامنځته کولو په موخه د سپما دغه ۲۷۰۰ ډلې په ۲۷ کلیو کې د سپما او پور پر ډلو ویشل شوې دي.